
# امریکا: د راډیکال اسلام خطر یو حقیقت دی




د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو د ۲۰۱۹م کال د جنوری په لسمه مصر ته ولاړ او ددغه هېواد له ولسمشر عبدالفتاح السیسي سره یې ولیدل او له مصره یې د امریکا ملاتړ اعلان کړ. هغه پر خپل ټویټر ولیکل: «په قاهره کې مې له سیسي سره خبرې ښې وې، د امریکا متحده ایالات په ټول جدیت سره د خپلو هوکړو پر بنسټ د دیني ازادۍ د ملاتړ او له تروریزم سره د مبارزې په خاطر، چې زموږ ټول ملګري په منځني ختیځ کې ګواښي، له مصر سره ولاړ دي.» همدارنګه هغه له خپل مصري سیال سامح شکري سره یو خبري کنفرانس جوړ کړ او مخکینۍ خبرې یې په دغه کنفرانس کې هم تکرار کړې او زیاته یې کړه: «ولسمشر ټرمپ به تل د مصر او نورو هېوادونو لپاره د یوه ښه شریک په توګه پاتې شي او یقیناً چې امریکا به له تروریزم سره د مبارزې په لپاره له مصره خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.»

بېشکه د راډیکال اسلام خطر یو حقیقت دی. همدارنګه پامپیو د مصر په پوهنتون کې خبرې وکړې، په داسې حال کې چې د اوباما پر سیاست یې نیوکه کوله، وویل: « پرون مو ملګرو موږ ته اړتیا لرله، خو موږ په کافي اندزه د هغې تند لارۍ او د تندلارې ایډیالوژۍ د اهمیت خطر کم کړ، چې د تندلارو ډولو د جوړېدو لامل کېده.» هغه وویل: «موږ له خپلو تېروتنو دا زده کړل، چې د امریکا شا تګ به په سیمه کې د ګډوډۍ لامل شي او که خپلو دوستانو ته پام ونه کړو، ستونزې به پیدا شي.» ده زیاته کړه: «موږ د یوه ځواکمن اسرائیل د بقا لپاره هڅه کوو.»

سامح شکري له خپل امریکایي سیاله، له مصر سره د امریکا د ډېرو مرستو غوښتنه وکړه او همدارنګه ټول اسلامي خوځښتونه یې له واحدې ایډیالوژۍ څخه را ولاړ وبلل او د مصر، سوریې او د افریقا په لویدیځ کې د هغوی د ځینو د نومونو د اخیستلو په واسطه یې د پاملرنې وړ وګرځول. هغه یاده کړه چې مصر د ثبات د ټیګښت لپاره د امریکا لپاره یو ځواکمن ستراتېژیک شریک دی یعنې د امریکا او مزدورانو د امنیت  ټینګښت، په سیمه کې د امریکا د نفوذ او د دوی د لاسپوڅو د حاکمیت دوام  او استقرار او د یهودو د دولت استقرار او د هغه قوي ملاتړی.

بېشکه د نړۍ حاکمیت ته د اسلام د بیا راگرځېدو لپاره د مبارزې پر هڅو تمرکز او د هغه له بیا راتگ څخه د امریکا حقیقي وېره په ډاگه کړې ده او پر همدغه دلیل هغه د یوه متشدد، راډیکال او یا تروریيستي اسلام په توگه تعبیروي او امریکا په مصر او سیمه کې د نړۍ حاکمیت ته د اسلام د بیا راتگ سره د مقابلې په خاطر د خپلو مزدورانو ملاتړ کوي. هغوي اسلام ته د امت د راگرځېدل درک کړي دي او له امت څخه د داسې خوځښتونو راوتل، د ژوند ډگر ته د اسلام پر بیا راتلو دلالت کوي او دا هغه څه دي چې دوی ترې وېرېږي او د ورکولو غوښتونکي يې دي؛ خو الله سبحانه وتعالی د هغوی لپاره په کمین کې ناست دی او خپل دین به، که څه هم امریکا، مزدوران او شریکان يې نه خوښوي غوره او بریالی کړي او له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړي او نېک عملونه کوي خپله وعده به، د ځمکې پر مخ د ظالمو او فاسقو حکامو پر ځای د دوی پر ځايناستي کېدو او د امنیت او قدرت په ورکولو سره عملي کړي.

ژباړن: زمری دوست